انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۱۱/۰۷

# د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه

## The Universal Declaration of Human Right (UDHR)

**یادونه:** ( زه نه پوهیږم چې دا اعلامیه به په پښتو ژباړل شوی وی کنه؟ ما د دی د پاره دا کار وکه، چې زمونږ د ټولنی ځوانان ور باندی و پوهیږی او په دی غور وکاندی چې موجوده انسانی ټولنه خصوصاً هغه ټولنی، چې د ستر ځواک لرونکی دی تر کومه حده دی نړیوال معتبر سند ته ارزښت ورکوی او یا هم ورته په ارزښت نه دی قایل؟ او که په ارزښت ورته نه وی قایل، د ملګرو ملتو نړیواله ټولنه ولی د دی نړیوالو قانون نه د سر غړونی پوښتنه نشی کولی؟) « ژباړه له انګلیسی متن څخه شویده»

**د ا علامیی ژباړل شوی متن:**( دا اعلامیه د یوی سریزی سره ۳۰ ځانګړی مادی لری او هغه دادي:)

د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه (UDHR) ، د ملګرو د اداری په ټول تاریخ کی یو تر ټولو د لوړ مقام لرونکی سند دی. دغه معتبر سند د نړی د بیلا بیلو کلچرونو او اصلیتونو د استازو له خوا طرحه اوترتیب شویدی.

دا اعلامیه د ۱۹۴۹ کال د دسمبر د میاشتی په (۱۵) لسمه نیټه، د ملګرو ملتو د عمومی اسامبلی له خوا د فرانسی د هیواد په پلازمینه د پاریس په ښار کی، د نړی د ټولو خلکو د پاره د ژوندانه د یوه عمومی معیار د لاس ته راوړلو په منظور د یوه نړیوال قانون په توګه قبول او اعلام شوه. دی اعلامیی یی د لومړی وار د پاره د بشر په تاریخ کی ځای وموند. په دی اعلامیه کی چی د بشری حقوقو اساسات پکی درج دی، د ټولی دنیا انسانان یی په شخصی،ګروپی او دولتی توګه په رعایت، تطبیق او ساتنی مکلف شویدی.

دا اعلامیه تر اوسه د ښه پوهاوی د پاره د دنیا په (۵۰۰) ژوندیو ژبو ژباړل شویده.

**سریزه: Preamble**

لکه څنګه چی پوهیږو، ټول انسانان د انسانی کرامت لرونکی دی، نو په همدی توګه د بشریت د لوی کورنی هر غړی د نورو سره د مساوی حق او آزادی لرونکی هم دی. دا حق په ځمکه کی د سوله ایز ژوند او ټولنیز عدالت بنسټ جوړوی.

لکه څنګه چی پوهیږو، بشری حقونو ته په کمه سترګه کتل او یا ورته اهمیت نه ورکول، د وحشت او تیری څرګندی نښی نښانی شمیرلی کیږی او دا بی حرمتی د هغی انسانی نړۍ د غوښتنو سره بیخی اړخ نه لګوی چی په هغی کی دی هر انسان د کلام او عقیدی آزادی ولری. ټول انسانان په مساوی توګه د آزادی هوا د تنفس کولو حق لری او ټول باید یو شان د مصونیت نه برخه من وی. د دی حقونو غصب د انسانی وجدان له حدودو نه بهر عمل دی.

دا یو اصل دی چی هیڅ انسان باید دی ته مجبور نشی چی په ټولنه کی د زور زیاتی او ظالمانه کړو وړو له کبله، تمرد، سرکشی او بغاوت ته مخه کاندی. د دی کار د مخنیوی د پاره په هره ټولنه کی بشری حقونه باید د قانون له مخی تقویه او حمایه شی.
دا هم د ګډ انسانی ژوند یو اساس دی چی د بیلو بیلو ملتو نو تر منځ دوستانه اړیکی باید رواج او په پرله پسی توګه پراختیا و مومی. له همدی امله د ملګرو ملتو موسسه د یوی لوی انسانی ټولنی په حیث په خپل منشور کی په تکراری توګه د بشر د حقوقو د پوره تامین تاکید او سپارښتنه کوی.
د بشر د حقوقو په اعلامیه کی ښځه او نارینه دواړه د یو ډول انسانی حقونو لرونکی دي، او د ټولو انسانی ټولنو نه یکی په کلکه غوښتنه شویده چی د ټولنیز ژوندانه د ښه پرمختګ په منظور ددی بنیادی آزادیو د تامین په پروسه کی برخه واخلی او خپله ونډه یکی سرته ورسوی. د ملګرو ملتونو منشور په بشری حقوقو په پوهیدنه باندی له دی کبله ډیره زوره اچوی، چی دا پوهیدنه په نړی کی د ټولو لویو او وړو ناوړه پیښو دکنترول او مخنیوی ضمانت کوی.
د همدی هدفونو د حصول د پاره د ملګرو ملتو عمومی اسامبلی د خپل جوړښت په لومړنیو وختو کی د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه د یوی ستری انسانی لاس ته راوړنی په توګه نشر ته وسپارله او په دی توګه یی د ټولو ملتونو، لویو او وړو ټولنو او سازمانونو نه په کلکه وغوښتل چی نه یواځی د دی اعلامی ټولی غوښتني و منی او درناوی ورته وکړی، بلکی په پراخه پیمانه د هغی په هدفونو باندی د پوهاوی د پاره ټولو ته په ټوله انسانی نړی کی لازمی هلی ځلی و کاندی.
د ملګرو ملتو اداری هر دولت په دی مکلف کړیدی چی باید د خپل کنترول لاندی په ټولو سیمو کی، د دی اعلامیی د ټولو حکمونو سره سم د خپلو خلکو د آزادیو او ټولو انسانی حقونو د تامین په منظور عملی اقدام وکړی، ترڅو په دی توګه په هری ځانګړی ټولنی او په مجموع کی په ټولی انسانی نړی کی دا ټولنیز حکم د ټولنیز عدالت د پاره په سمه توګه تطبیق شی.

**لومړی ماده:**

ټول انسانان په آزاده توګه پیدا شویدی، ټول انسان کرامت لری او د یو ډول حقوقو لرونکی دی. ټول ته یو ډول ضمیر اوړ وجدان ورپه برخه دی او ټو باید یو د بل په وړاندی د وروروولی په رحیه چللند و کړی.

**دویمه ماده:**

هر څوک بی له هر ډول توپیر لکه : نژادي، رنګ، جنس، ژبی، مذهب، سیاسی نظر، ټولنیز دریځ، سمتی او منطقوی تغیر او د پیدایښت حالت او نورو څخه پرته، د ټولو هغو حقوقو او ازادیو نه برخه من دی چی په دی اعلامیه کی راغلی دی. همدارنګه هیڅ ډول هغه توپیر چی د هیوادو د سیاستونو، اداری او قضائی جوړښتونو او هغو نړیوالو دریځو له مخی چی یو فرد ور پوری تړلی وی، که آزاد وی، که په چا پوری تړلی وی او د خپل حکومتی سیستم لرونکی هم نه وی او یا د نورو محدودیتونو لاندی وی بیا هم په دی اعلامیه کی د درج شوو حقوقو لرونکی دی.

**دریمه ماده:**

په پوره آزاده توګه او په امن کی ژوند کول د هر چاحق دی.

**څلورمه ماده:**

هیڅوک حق نه لری چی بل څوک د غلامی یا مریتوب په بڼه وساتی، د غلامی د تجارت ټول ډولونه په مطلقه توګه لغوه ده.

**پنځمه ماده:**

هیچا ته د ظلم او شکنجی په توګه جزا نشی ور کول کیدای، هیچا سره د توهین او تحقیر له مخی سلوک نشی کیدلی.

**شپږمه ماده:**

هرڅوک په هرځای کی د دی حق لری چی د قانون له مخی د انسان په توګه و پیژندل شی.

**اومه ماده :**

د قانون له مخې ټو خلک د مساوی حقونو لرونکی دی او بی له هر ډول تبعیض څخه هر یو د قانونی حمایی حق لری. هر څوک حق لری چی په هر ځای کی د هر ډول تبعیض او زور زیانی څخه د قانون له مخی و ژغورل شی. هیڅوک حق نلری چی د دی اعلامیی د اصولو خلاف، هسی کړه وړه تر سره کړی چی د تیری د پاره د هڅونی لامل (سبب) جوړ شی.

**اتمه ماده :**

هرڅوک حق لری چی د قانونی مراجعو سره، د حقوقو د نقض کونکو په وړاندی، د ټولنیز حالت د سالمی رغونی د پاره ، هغه مؤثری مرستی و کاندی چی قانون ورته اجازه ور کړی وی.

**نهـمه ماده:**

هیڅوک نه شی کولی چی په خپله خوښه څوک توقیف، بندی او یایی تبعید او فرار کاندی.

**لســمه ماده:**

هرڅوک په مکمله توګه حق لری چی په یو عامه او بی طرفه محکمه کی، ټول هغه اتهامات چی د یو مجرم په توګه ورباندی وارد شویدی، په منصفانه توګه واوری.

**یوولسمه ماده:**

۱: هرڅوک چی د یوه جرم په سرته رسولو تومتی شی، هغه وخته پوری چی د محکمی یا هغی قانونی مرجع له خوا چی په هغی کی متهم ته د ځان نه د دفاع ټول وسایل برابر وی، د سمو اسنادو په وړاندی کولو سره یی جرم نه وی ثابت شوی، بی کناه شمیرل کیږی.

۲: هیڅوک د داسی عمل په سرته رسولو مجرم نه شی ګڼلی، چی دا عمل د محلی یا ملی او یا هم نړیوالو قوانینو له مخی، تر هغه وخته جرم نه وی ګڼل شوی چی دا عمل تر سره شوی دی. همدارانګه څوک حق نه لری چی د متهم د مجرم ګڼلو د پاره د عمل د تر سره کیدو وروسته نوی قانون جوړ او متهم باندی جزا تحمیل کاندی.

**دولسمه ماده:**

هیڅوک حق نه لری چی د چا شخصی حالت کی مداخله وکاندی. هرڅوک حق لری چی د خپل شخصیت او ملکیت څخه د مداخله کر په وړاندی د ځان نه د فاع و کاندی.

**دیار لسمه ماده:**

۱: هرڅوک حق لری چی په آزادانه توګه او خپله خوښه د خپل هیواد په حدوداتو کی هرځای کی چی وغواړی ژوند وکړی.

۲: هرڅوک حق لری چی د خپل هیواد په ګډون په خپله خوښه له ه

ر هیواد نه و وځی، او حق لری هرکله یی چی غوښتی وی بیرته خپل هیواد ته ستون شی.

**څوار لسمه ماده:**

۱: هرڅوک حق لری چی دتیری، آزار او ظلم له کبله خپل هیواد پریدی او په نورو هیوادونو کی د ژوند کولو د پاره پناه وغواړی.

۲: دا حق په هغه صورت کی چاته نه ورکول کیږی چی د یوه غیر سیاسی جرم له کبله د قانونی تعقیب لاندی وی او یا د ملګرو ملتو د هدفونو او اساساتو سره په مخالفت کوی.

**پنځلسمه ماده:**

۱: هرڅوک حق لری چی یو مشخص ملی هویت و لری.

۲: هیڅوک د خپل ملی هویت نه په زور او جبر سره نه محرومیدلی شی، نه یی څوک تر منکرولی شی او نه یی په تغیر کولو مجبورولی شی.

**شپاړسمه ماده:**

۱: هغه ښځې او نارینه چې قانوني عمر ته رسیدلي وي، بې له هر ډول نژادي، ملي، مذهبي او جنسي قید څخه کولی شي چې واده وکړي او کورنۍ جوړه کړي. دوی دواړه هم د واده په وخت کې او هم د واده د له منځه وړلو په وخت کې د یو ډول حقوقو لرونکي دي.

۲: واده باید په آزادانه توګه په پوره رضایت او خوښی ، د هغه چا سره وشي چې ځانونه یو د بل سره خوښ او نیک مرغه ګڼي.

۳: کورنی د ټولنی د یوالی د ساتنی د پاره یو طبعي واحد دی او د دی حق لري چې د ټولني او دولت له خوایي ساتنه او پالنه وشي.

**اووه لسمه ماده:**

۱: هرڅوک حق لری چې یا په ځانګړی توګه او یا هم د نورو سره په شراکت کس شخصي ملکیت او دارایي ولري.

۲: هیڅوک په زور او جبر سره د خپلي شتمنی نه نشي محرومیدلی.

**اتلسمه ماده:**

هرڅوک حق لري چې آزاد فکر وکړي،آزاده عقیده ولری او په خپله خوښه ځانته مذهب و ټاکی. کیدای شي عقیدی ته په یوازیتوب او یا هم په ډله ایزه توګه تغیر ورکړل شي. هر څوک حق لري چې د خپلي عقیدی اظهار د عبادت، تمرین او عمل په ذریعه و کړی.

**نولسمه ماده:**

هرڅوک د نظر ورکولو او د بیان د آزادۍ حق لری، دا حق هغه آزادي هم په بر کی نیسي، چې د سر حد او پولی د په نظر کی نیولو نه پرته د نورو له نظریاتو نه د رسنیو له لاری خبرتیا تر د لاسه کاندی.

**شــلمــه ماده:**

۱: هرڅوک حق لری چې په آزادانه توګه په سوله ایزو غونډو او ټولنو کی ګډون و کاندی.

۲: هیڅوک حق نه لری چې بل څوک په کومه ټولنه کی په غړیتوب باندی مجبور کاندی.

**یوویشتمه ماده:**

۱: هرڅوک حق لری چې د خپل مطبوع هیواد په دولتي چارو کی یا په مستقیمه توګه او یا هم له ټاکنی له مخی ونډه ولري.

۲: هرڅوک حق لری چې په خپل مطبوع هیواد کی عامه خدماتو ته لاس رسی ولري.

: ټول دولتونه په دی مکلف دي چې د خپل هیواد د خلکو خدمت خپله اساسی دنده و بولی او دولتی قدرت د دوره یی رڼو او پټو ( سری) ټاکنو په نتیجه کی را منځ ته کړی.

**دوه ویشتمه ماده:**

هرڅوک د ټولنی د یوه غړی په توګه حق لری چې د ټولنیز امنیت نه برخه من وی او ددی امنیت په ساتلو کی د خپل توان په اندازه د ملی او نړیوالو سازمانونو په مرسته کار وکړی. همدارنګه هرڅوک د دی مستحق دی چې د خپل مطبوع دولت د ټولو منابعو څخه د خپلی ټولنی د اقتصادی پیاوړتیا او ټولنیز کلچری جوړښت د ودی د پاره ګټه پورته کړی او ور سره د خپل شخصیت او درناوی د پراختیا د پاره ټولی ضروری هلی ځلی و کاندی.

**درویشتمه ماده:**

۱: هرڅوک حق لری چې کار وکړی، په خپله خوښه ځانته دنده پیدا کړی، د کار د عادلانه شرایطو نه په ګټی اخستنی سره خپله دنده و ساتی او د بیکاری نه ځان و ژغوری.

۲: هرڅوک حق لری چې بی له هر ډول توپیر څخه د ورته کار په مقابل کی ورته مزد تر د لاسه کړی.

**۳:** هرڅوک چې کار کوی حق لری چې د خپل کار نه د ځان او خپلی کورنی د پاره ګټه پورته کړی، همدارنګه حق لری چې د خپلی موجودی شتمنۍ او که اړین وی له ضمیمو څخه هم د خپل انسانی حیثیت د ساتنې د پاره کار واخلی. په بل عبارت هرڅوک حق لری چې د ټولنیز مصونیت نه برخه من وی.
**۴:** هرڅوک حق لری چې د خپلو روا ګټود حصول او ساتنی د پاره یا یواځی او یا د نورو سره سوداګریزی اتحادیی جوړی کاندی او پر مختګ وکړی.

**څلرویشتمه ماده:**

هرڅوک حق لری چې د کار کولو په وخت کی د دمې او استراحت کولو موقع ولری، د کار کولو ټاکلی وخت ، مناسب حد او با معاشه رخصتی ولری.

**پنځه ویشتمه ماده:**

**۱:** هرڅوک حق لری چې هم خپله او هم یې کورنی په ټولنه کی د قبول شوو معیارونو سره سم د ژوندانه مناسب شرایط ولری، لکه روغتیایی خدمات، مناسبه غذا، لباس، د اوسیدلو ځای او نورو ضروری خدماتو ته لاس رسی. همدارنګه هر څوک حق لری چې د بیکاری، ناروغی، معیوبی، کونډتوب، زړښت او په نورو حالاتو کی د ژوندانه د معیشت له درکه تر ځارنی لاندی و نیول شی.
**۲:** میندی او ماشومان د خاصی پاملرنی مستحق دی، ټول ماشومان حتی هغه ماشومان چې له واده پرته دنیا ته راغلی وی هم د ورته ټولنیزی حمایی حق لری.

**شپږویشتمه ماده:**

**۱:** هرڅوک حق لری چې زده کړه وکړی، زده کړه باید لږ تر لږه د ابتدایی او بنیادی مرحلی پوری وړیا او اجباری وی. تخنیکی او مسلکی زده کړی باید عمومی بڼه و لری او هرچا ته چې غوښتنی وی د دی زده کړو زمینه برابره وی. دلوړو زده کړو زمینه هم باید د ټولنی ټولو وګړو ته په مساوی توګه د لیاقت او وړتیا له مخی برابره او تنظیم شی.
**۲:** زده کړه باید د انسانی شخصیت د ودی، بشری حقوقو ته د احترام لرلو او په شخصی آزادیو باندی د پوهیدلو په بنیاد ولاړه وی. زده کړه باید په هر انسان کی د پوهاوی، حوصلی او د ټولو ملتونو د انسانانو سره په هر نژاد او مذهب چې وی د ملګرتیا روحیه پیاوړی کړی. زدکړی باید د ملګرو ملتو د هدفونو سره سم د نړیوالی سولی د تامین د پاره ګټوری تمامی شی.
**۳:** مور او پلار باید د اولادونو د زده کړی د پاره د انتخاب لومړی حق لری چې اولاد یې څه ډول زده باید وکړی.

**اوه ویشتمه ماده:**

۱: هرڅوک حق لری چې په آزادانه توګه د خپلی ټولنی په کلچرکی ونده ولری، دټولو هنری ښکلاو نه لذت او خوند واخلی، او د نورو سره یوځای د علمی پرمختګونو ګټه پورته کړی.
**۲:** هرڅوک حق لری چې د خپلو ټولو علمی، ادبي او هنری پنځونو څخه مادی او معنوی ګټه تر د لاسه او د هغوی نه ساتنه وکړی.

**اته ویشتمه ماده:**

هرڅوک حق لری چې د دی اعلامیی د ټولو حقونو نه برخه من شی او په پوره آزادۍ سره د هغی ټولنیز او نړیوال ارزښت و پیژنی.

**نهه ویشتمه ماده:**

**۱:** هرڅوک وظیفه لری چې د مکملی آزادۍ سره د خپلی ټولنی د پرمختګ د پاره خپل شخصی امکانات هم په کار واچوی.

**۲:** هرڅوک د خپلې آزادۍ د حق نه په ګټې اخستنې سره باید یواځې هغو موضوعاتو ته پاملرنه و کاندي چې د دې اعلامیې په حدوداتو کې د نورو د مصؤنیت او د هغوی حقوقو ته د درناوی په منظور درج شویدی. د ټولو آزادیو نه باید داسې ګټه پورته شي چې د نورو ازدیو، اخلاقي اړتیاوو او د ټولې عمومي ښیګڼو ته زیان و نه رسوي.

**۳:** په دې اعلامیه کې راغلي حقوق او آزادي باید هیڅکله د ملګرو ملتونو د اساساتو او اهدافو په مقابل کې و نه کارول شي.

**دیرشـمه ماده:** د دې اعلامیې هیڅ ماده د هیڅ دولت، ډلې او شخص له خوا داسې نشي تعبیر او تفسیر کیدلی چې په اعلامیه کې شاملو حقوقو او آزادیو ته زیان ورسوي او یایې تخریب کاندي. پای.

تورنتو ـ کاناډا – نومبر ۲۰۱۸

## تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نوشته ها و مطالب دیگر این نویسنده را هم مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!

د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه

kliwal_s_debashr_dehoqoqo_elaamiya.pdf